# تحلیل

شماره ۳۷۱

۱۸ اسد ۱۴۰۰ هـ ش

## تعامل توهين آميز امريكا با هم‌پيمانانش حين خروج از افغانستان

*****

## د امريکايي ځواکونو له وتلو وروسته په افغانستان او سيمه کې امريکايي ګټو او ګلاږو ته کتنه



# تعامل توهین آمیز امریکا با هم‌پیمانانش حین خروج از افغانستان

## مقدمه

قرار است روند خروج نیروهای خارجی از افغانستان تا یازدهم ماه سپتمبر سال جاری میلادی تکمیل شود و پس از این تاریخ رسما حضور نیروهای خارجی در افغانستان به پایان برسد. خروج کامل نیروهای خارجی از افغانستان بدون شک تاثیراتی روی سیاست، امنیت و اقتصاد افغانستان به جا می‌گذارد. نگرانی از همین تاثیرات خروج نیروهای خارجی نیز باعث شد که مسئلۀ مهم سپردن تاسیسات و تجهیزات به مردم افغانستان، توجه و واکنش حکومت و مردم را آنچنانی که لازم بود، در پی نداشته باشد.

روند خروج نیروهای خارجی از افغانستان اساسا در اواسط سال 2011 میلادی با سپردن مسوولیت‌های امنیتی به نیروهای افغان در ولایت‌های بامیان، لغمان و شماری از ولایات دیگر آغاز گردید و تا سال 2014 مسوولیت تمام بخش‌های کشور به نیروهای افغان سپرده شد. در آن زمان نیز نیروهای خارجی هنگام تخلیه پایگاه‌های نظامی خود، تاسیسات و تجهیزات نظامی را تخریب می‌کردند و پس از آن به نیروهای افغان می‌سپردند. از آنجاییکه نیروهای خارجی در آن زمان افغانستان را به گونۀ کامل ترک نمی‌کردند، تاثیرات سیاسی سپردن مسوولیت‌های امنیتی به نیروهای افغان به حد خروج کامل آنان در ماه‌های اخیر جدی و عمیق نبودند. از همین‌رو، حکومت افغانستان در سال 2013م در برابر تخریب تاسیسات و تجهیزات نظامی از سوی نیروهای خارجی موقف گیری کرده و واکنش نشان داد و از طریق شورای امنیت ملی افغانستان تشویش حکومت افغانستان را به مقام‌های نیروهای ائتلافی رساند.

حدود هشت سال بعد و پس از اعلام خروج کامل قوت‌های خارجی از سوی امریکا و کشورهای عضو ناتو از افغانستان، بار دیگر همان وضعیت تکرار شد و نیروهای خارجی در اثنای خروج از پایگاه‌های نظامی خود، وسایط و تجهیزات خویش را قبل از سپردن به نیروهای افغان تخریب کردند.

در عین حال، یک نکتۀ مهم در این قضیه این است که هرچند برخی جهت‌ها ممکن طرفدار تخریب این تاسیسات و تجهیزات نظامی از سوی نیروهای خارجی نیز باشند، ولی باید خاطر نشان ساخت که این تاسیسات و تجهیزات در مرحلۀ پسا-صلح در افغانستان برای تقویت نیروهای نظامی کشور و در کل برای اقتصاد کشور حایز اهمیت بسیاری بود و نباید به این مسئله دید کوتاه مدت داشت.

در این نویشتار کوتاه روی چگونگی تخریب تاسیسات و تجهیزات از سوی نیروهای خارجی، عوامل تخریب این تاسیسات و دیدگاه مقایسوی خروج نیروهای شوروی سابق با خروج نیروهای امریکا و ناتو از افغانستان پرداخته شده است.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## تخریب تاسیسات و تجهیزات

رفتار نیروهای خارجی با تاسیسات نظامی و وسایل باقی مانده در پایگاه‌های که آنرا ترک می‌گویند در بسیاری موارد توجه افغان‌ها را جلب کرده است. آنان وسایل ارزشمند خود را از افغانستان خارج می‌کنند و وسایل کم ارزش‌تر را به جای اینکه به جانب افغانستان تحویل بدهند، آنرا کاملا تخریب و منهدم می‌کنند و وسایلی که قابل انهدام کامل نبودند، به صورت آهن پاره تبدیل کرده و به خریداران محلی واگذار می‌کنند.

به گونۀ مثال، پایگاه نظامی شورابک یا کمپ باستن که در طول 20 سال گذشته بزرگترین مرکز نظامی نیروهای خارجی در جنوب افغانستان به شمار می‌رفت و نیروهای امریکا و بریتانیا در این پایگاه مستقر بوده اند، اکنون با خروج نیروهای خارجی از این پایگاه، بار دیگر به یک مکان شبیه میدان خالی مبدل شده است. یک فلم مستند از این پایگاه نظامی که در ماه می سال جاری به نشر رسیده است، نشان می‌دهد که نیروهای خارجی تجهیزات و وسایطی را که ارزش حمل دوباره از افغانستان را ندارند، در داخل این پایگاه تخریب می‌کنند و آنرا در جمع آهن کهنه در بازارهای سیاه به فروش می‌رسانند. در کنار این، فلم نشان می‌دهد که تاسیسات و موانع نظامی داخل این پایگاه نیز تخریب می‌شوند و حتی موترهای غیرنظامی، سیم‌های برق و سایر وسایل را از بین می‌برند و استفاده از آنها را غیرممکن می‌سازند. یک قوماندان و شماری از افسران اردوی ملی که در آنجا حضور پیدا کرده اند از این برخورد نیروهای خارجی متعجب می‌شوند. یکی از آنها با تعجب می‌گوید که اگر اینها می‌توانسند دیوارهای کانکریتی را نیز با خود می‌بردند. اما تخریب کننده‌گان این تجهیزات و تاسیسات در این پایگاه می‌گویند که هدف این کار را نمی‌دانند و فرمان این کار را از مقام‌های عالی رتبه دریافت کرده اند.

امریکا در پیمان امنیتی که با حکومت افغانستان امضا کرده نیز تعهد سطحی سپرده بود که در صورت خروج از پایگاه ها، آنرا به جانب افغانستان واگذار می‌کنند. هرچند متن پیمان امنیتی طوری ترتیب گردیده بود که جانب امریکایی هیچ الزامیتی در تمام این پیمان نداشت، ولی به نحوی در آن یادآوری شده که تاسیسات را به جانب افغان واگذار می‌کنند. بند اول ماده هشتم پیمان امنیتی میان افغانستان و امریکا که در سال 1393 به امضا رسید، می‌نگارد: «نیروهای ایالات متحده تمامی تأسیسات و مکان‌های که در آن تعمیرات، ساختمان‌های غیرمنقول و اجزای ثابت دیگر از سوی این نیروها اعمار، تعدیل، و یا ترمیم گردیده و دیگر مورد استفاده آن‌ها قرار ندارد، به افغانستان واگذار می‌کند.» ولی خلاف این تعهد در ماه‌های پسین دیده شد که اکثریت تاسیسات از سوی نیروهای خارجی تخریب گردیده اند.

همین داستان در سایر پایگاه‌های نظامی امریکا به شمول پایگاه بزرگ بگرام نیز تکرار شد. به نقل از مردم محل روزانه صدها وسایل امریکایی به سوی پاکستان برده می‌شد و در این پایگاه‌ها جز ویرانی چیز دیگری به چشم نمی‌خورد. حتی روشن نیست که این وسایط به کشورهای مبدأ انتقال می‌شوند و یا به کشور سومی مانند پاکستان تحویل داده می‌شوند.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

با وجود اینکه برخی تجهیزات کم ازرش و غیرنظامی مانند جنراتورها و غیره در شماری از پایگاه‌ها به حکومت افغانستان تحویل نیز شده اند، ولی نسبت به آنچه تخریب و یا از کشور بیرون شده، اصلا قابل یادآوری نیست. برخی تحلیلگران به این نظر اند که تعهدات کمک‌های امریکا به جانب افغانستان بیشتر عوام فریبانه است و تخریب همین تاسیسات و وسایط نشان می‌دهد که امریکا هرگز نمی‌خواهد افغان‌ها به چنین وسایط و تجهیزات مجهز باشند.

## نگاهی به میراث شوروی و امریکا در افغانستان

تخریب گسترده تاسیسات و وسایل نظامی و غیرنظامی از سوی نیروهای خارجی و در کل خروج نیروهای امریکا و ناتو از افغانستان هر کسی را به یاد خروج نیروهای شوروی از افغانستان در دهه نود میلادی می‌اندازد. در آن زمان نیروهای شوروی برعکس نیروهای ناتو و امریکا، پایگاه‌های خود را با تمام وسایل و تجهیزات به دولت تحت حمایت خود واگذار کرده و به ارزش دهها میلیارد دالر تجهیزات و وسایل نظامی را از خود به جای گذاشتند.

برخی شواهد و اسناد نشان می‌دهد که نیروهای شوروی در هنگام خروج از افغانستان بیش از 2500 تانک، حدود 500 طیاره جنگی و حمل و نقل و بیش از 5000 وسیله نقلیه نظامی را به دولت افغانستان واگذار کرد. هرچند تعداد زیادی از این تجهزات در زمان جنگ‌های داخلی ویران شدند و یا به کشورهای دیگر قاچاق شدند، ولی اگر پس از خروج نیروهای شوروی، صلح در افغانستان تامین می‌شد، سرمایه بزرگی برای افغانستان بود.

برخی بررسی‌ها نشان می‌دهد که میراث نظامی شوروی برای افغانستان، دستگاه نظامی کشور را مبدل به یکی از قدرت‌های نظامی در منطقه کرده بود. در حوزه زرهی حدود 400 الی 600 تانک تی 55، حدود صد دستگاه تانک پیشرفته تی 62 ام که مجهز به کنترول شلیک کامپیوتری و مسافت سنج لیزری بوده و صدها دستگاه نظامی دیگر را نیروهای شوروی به دولت افغانستان واگذار کرد. پس از خروج نیروهای شوروی افغانستان صاحب صدها طیاره و چرخبال جنگی شده بود. به گونهٔ مثال جت‌های میگ 21، بمب افکن‌های سوخو، طیاره انتونوف، حدود 155 فروند چرخبال تهاجمی میل 24، و ده‌ها فروند هواگرد نظامی باری دیگر به افغانستان تحویل داده شده بود. افغانستان از نظر نیروی هوایی به گونهٔ قابل ملاحظه تقویه شده بود و حتی دفاع ضد هوایی افغانستان با سیستم رادار یکپارچه و تجهیزات پیشرفته مجهز شده بود.

در جانب دیگر، اگر نظری به دو دهه گذشته بیاندازیم، هرچند نیروهای امریکایی و ناتو مبالغ هنگفتی برای تجهیز نیروهای افغان در روی کاغذ به مصرف رسانیده اند، ولی چیزیکه عملا شاهد آن هستیم، نیرویی نیست که در منطقه حرفی برای گفتن داشته باشد. تا حدی که ستون فقرات نیروی هوایی افغانستان را حدود 40 فروند طیاره توربوپراپ ای 29 سوپرتوکانو تشکیل می‌دهد که عملا توانایی مقابله با نیروهای هوایی مهاجم را

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ندارد. این طیاره‌ها به دلیل مصرف پایین آن و ارزان بودن قطعات آن برای کشورهای فقیری چون افغانستان مناسب است. چندین فروند طیاره باری سی 5 که از سوی امریکا به افغانستان داده شده بود به حساب آهن کهنه فروخته شدند. اکنون چرخبال‌های محدودی عملا در اردوی افغانستان فعالیت دارند و قرار است شماری از چرخبال‌های دیگر نیز تحویل افغانستان گردد که تا هنوز هم رسیدن آن به افغانستان یقینی نیست. در کل، نیروهای هوایی فعلی افغانستان از نظر توانایی به هیچ عنوان با نیروی هوایی به جا مانده از شوروی سابق قابل مقایسه نیست و به مراتب ضعیف‌تر و ناکارآمدتر است.

تفاوت زیادی بین میراث شوروی سابق و امریکا برای افغانستان وجود دارد که در اینجا تنها به عنوان مثال یادآوری شد، ولی دامنه این نویشتار برای تفصیلات کامل آن خیلی محدود است. در کل با نگاهی به میراث شوروی و امریکا برای افغان‌ها در رابطه به وسایل، امکانات و تجهیزات در می‌یابیم که با میراث شوروی سابق برای افغانستان، اردوی کشور مبدل به اردوی قدرتمندی از لحاظ تجهیزات شده بود، ولی اکنون با خروج نیروهای امریکایی و ناتو از افغانستان، اردوی کشور از لحاظ تجهیزات در وضعیتی قرار دارد که در مقابل تهدیدهای خارجی هیچ حرفی برای گفتن ندارد و تنها می‌تواند در مقابل گروه‌های داخلی که بدون هیچ گونه پشتوانه زرهی و دفاع موثر باشند، تا حدی کارآمد باشد.

## عوامل تخریب تأسیسات

اینکه چرا نیروهای امریکایی تجهیزات و تاسیسات خود را به افغان‌ها واگذار نمی‌کنند و چرا شوروی افغانستان را چنان مجهز کرده بود، بیشتر به سیاست‌های این دو کشور تعلق دارد. در عموم شوروی کشورهای تحت حمایت خود را به خوبی تجهیز می‌کرد، ولی امریکا و کشورهای غربی چنین سیاستی در پیش نگرفته اند.

در سال 2013م نیروهای ائتلاف دلیل تخریب تاسیسات خود را عدم موجودیت ظرفیت‌های لازم برای کارگیری و حفاظت از این تجهیزات و وسائل اعلام کرده بود. در آن زمان نیز این دلیل از سوی حکومت افغانستان غیرموجه و قابل نگرانی عنوان شده بود، ولی اگر همین دلیل موجه هم بوده، پرسش اینجاست که چرا در 20 سال گذشته با وجود مصارف هنگفت و تعهدات پی در پی به تجهیز و آموزش نیروهای افغان حتی ظرفیت به کارگیری تجهیزات در این نیروها به وجود نیامده است؟!

شاید یکی از مهم ترین عواملی که امریکا و کشورهای عضو ناتو نمی‌خواهد تجهیزات و تاسیسات خود را به افغان‌ها واگذار کنند، این باشد که امریکا از واقعیت‌های عینی جامعه افغانستان و برباد رفتن آن همه تجهیزاتی که شوروی سابق به افغان‌ها واگذار کرده بود، درس و پند گرفته است و فکر می‌کنند که این تجهیزات ممکن روزی به دست دشمنان آنها بیافتند. امریکا تجربه تلخ ویتنام جنوبی و حکومت حاکم بر آن را نیز در خاطر دارد که بعد از حمایت مستقیم امریکا در مدت کوتاهی در مقابل ویت کنگ‌ها شکست خورد و تجهیزات نظامی آن نصیب دشمنان درجه یک امریکا شد. اگر به وضعیت سیاسی فعلی افغانستان نگاهی داشته باشیم،

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

روشن است که دولت فعلی افغانستان نیز با مشکلات و چالش‌های زیادی دست و پنجه نرم می‌کند و افغان‌ها یک آینده مبهمی در پیش دارند؛ منافع ملی قربانی منافع شخصی برخی زورمندان و زمامداران کشور می‌شوند؛ و وضعیت حاکم در افغانستان احتمال تکرار تجارب گذشته را بالا برده است.

در مجموع سیاست کلی امریکا در قبال همپیمانان خویش با سیاست کلی شوروی متفاوت است. تاریخ معاصر امریکا شاهد آن است که این کشور با دوستان و هم‌پیمانان بین المللی خویش وفا نکرده و در اکثر موارد تعهدات خویش را عملی ننموده است. به همین دلیل است که حامد کرزی رئیس جمهور پیشین افغانستان در سال 2013 زمانی که از امضای پیمان امنیتی با امریکا انکار می‌کرد، گفت که بالای امریکا اعتمادی ندارد. وی گفت: «هرگاه امریکا تصمیم رفتن بگیرد، اگر ما هزار قرارداد امنیتی را هم برایشان بدهیم، آنان می‌روند. در سالهای بعد از جهاد و پیروزی جهاد افغانستان، زمانی که شوروی افغانستان را ترک کرد، این‌ها یک باره افغانستان را تنها رها کردند، سفارت‌های خود را بستند و رفتند». به گفتهٔ او، «هرگاه منفعت آنان نباشد، هیچگاه به ما ارزش قایل نمی‌شوند».

## نتیجه گیری

تخریب تاسیسات و تجهیزات از سوی نیروهای خارجی اساسا نشانگر عدم تعهد در قبال افغانستان است. حضور نیروهای خارجی به رهبری امریکا در 20 سال گذشته نتواست امنیت و صلح را در این کشور تامین کند. در طول این سالها افغانستان نه تنها از دست درازی‌های کشورهای همسایه نجات نیافت بلکه درگیر بازی‌های خطرناک منطقوی و فرامنطقوی نیز شد. قرار است تا یک ماه دیگر تمام نیروهای امریکایی و ناتو از افغانستان خارج شوند و دولت امریکا تعهد سپرده است که به حمایت مالی نیروهای افغان ادامه خواهد داد، ولی تخریب این تاسیسات به سادگی نشان می‌دهد که این کشورها هیچ گونه تعهدی نسبت به آینده افغانستان نخواهند داشت و روزی فرا خواهد رسید که افغانستان را به گونه کامل رها خواهند کرد و نظاره‌گر مشکلات و جنگ‌های داخلی در این کشور خواهند بود.

پایان

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د امریکايي ځواکونو له وتلو وروسته په افغانستان او سیمه کې امریکايي ګټو او تګلارو ته کتنه



## مقدمه

شل کاله مخکې امریکايي ګټو دا ایجابوله چې پر افغانستان حمله وکړي، د طالبانو واکمنۍ ته د پای ټکی کېږدي او پر ځای يې نوی حکومت رامنځ ته کړي. پر افغانستان د یرغل دلیل هماغه د سپټمبر د یولسمې پېښه وه. امریکایانو ادعا کوله چې القاعده د پېښې مسئوله ده او باید مجازات شي. شل کاله وروسته امریکا خپل حضور په دې دلیل پای ته رسوي چې اسامه بن لادن نور ژوندی نه دی او طالبانو ژمنه کړې چې نور به له القاعدې او ورته ډلو سره خپلې اړیکې پرې کوي، او هیچا ته به اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د بل کوم هېواد، خاصتاً امریکا، پر ضد استعمال شي.

د امریکايي نظامي حضور له پای ته رسېدو سره سم دا پوښتنه مطرح کېږي چې له دې وروسته به په سیمه او افغانستان کې د امریکا ګټې کومې وي او څنګه به يې لاس ته راوړي. د دې پوښتنې مطرح کېدل، ضمناً، دا خبره تائیدوي چې امریکا به له نظامي حضور وروسته هم په سیمه او

Center for Strategic and R

افغانستان کې خپلې ګټې پالي. اما، دا چې دا ګټې به څه وي، حدود به يې څېرته پيل او کوم ځای ختمېږي، او بلاخره د کومو تکتیکونو او پالیسیو له لارې به خپلې ګټې څاري، دا ټول د بحث وړ مسائل دي چې په دې لیکنه کې به يې د امکان تر حده د ځوابولو هڅه وشي.

## په سیمه او افغانستان کې امریکايي ګټې څنګه وپېژنو؟

که څه هم د امریکايي سیاسي مبصرینو یوه لویه ډله پر دې باور ده چې امریکا د بشري حقونو، د ښځو د حقونو، مدني آزادیو او بلاخره په نړۍ کې د دموکراسۍ سرلارې او په اړه یې مسئوله ده، او په همدې دلیل د بشري حقونو ساتل، د ښځو د حقونو اعاده او د دموکراتیکو رژیمونو رامنځ ته کول د امریکايي ګټو په لیست کې شاملوي.[1] د دغه باور د حاکمیت دلیل پر امریکايي عامه ذهنیت باندې د رسنیو، څېړنیزو مرکزونو، او د عامه ارتباط د نورو وسایلو له لارې د سیاسونو د تبلیغاتو هغه تأثیر دی چې د همدې مفاهیمو تر چتر لاندې د امریکا د هرې جګړې د مشروعیت لپاره، باید رامنځ ته شي. حال دا چې اوسني او تاریخي واقعیتونه دا په ډاګه کوي چې پورته یاد شوي موارد د امریکايي ګټو په لیست کې ځای نه لري. په جنوبي امریکا، منځنۍ ختیځ، افریقا او د نړۍ په نورو ځایونو کې د حکومتونو رنګول او بشري ناورینونه رامنځ ته کول، له دیکتاتورو رژیمونو څخه ملاتړ، د مشروع انتخابي حکومتونو پر وړاندې له نظامي کودتاګانو څخه ملاتړ او یا چوپ پاتې کېدل، هغه څه دي چې د بشري حقونو او دموکراتیکو پرنسیپونو سره په ټکر کې دي، او دا د امریکا د نظامي، استخباراتي او سیاسي هڅو د تاریخ لویه برخه تشکیلوي.

کله چې په سیمه او افغانستان کې د امریکايي ګټو د پېژندلو لپاره هڅه کېږي نو یو حقیقت باید له نظره و نه غورځول شي؛ هغه دا چې د امریکا د بهرنیو پالیسیو تاریخ پر دې شاهدي ورکوي چې په افغانستان کې تر نظامي حضور وروسته به امریکا خپلو ګټو ته نوی تعریف ورکوي او نوي حدود به ورته ټاکي. د دغو ګټو د لاسته راوړلو په لار کې به د راتلونکي رژیم نوعیت، د بشري حقونو حالت، انساني ناورین، د میلیونو افغانانو بیا مهاجرت، او حتی کورنۍ جګړه، منفي او یا مثبت فکتورونه نه وي.

---

[1] Annie Pforzheimer “Protecting Wider U.S. Interests after a Troop Withdrawal”. *Center for Strategic and International Studies*, 16 June 2021, www.csis.org/analysis/protecting-wider-us-interests-after-troop-withdrawal



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د پورتني وضاحت په نظر کې نیولو سره، د امریکايي نظامي حضور له پای ته رسېدو سره سم د افغانستان وضعیت یو مغلق او پېچلی حالت غوره کړی دی. د سولې خبرې له بن بست سره مخ دي، نظامي تحرکات په لوړه کچه مخ ته روان دي چې هره ورځ په سلګونو انسانان په کې وژل کېږي، او ځوک نه شي ویلای چې راتلونکی به له ځان سره څه لري. دغه نامعلوم حالت ته په کتلو، د امریکا دولت هم تر اوسه نه دی توانېدلی چې د خپلو ګټو او راتلونکو ګامونو په اړه ځان ته د لارې نقشه برابره کړي.[2] په داسې حالت کې، د وضعیت د درک لپاره، یوازېنۍ چاره دا پاتې کېږي چې له حوادثو، تغییراتو او تحولاتو څخه د متضرر او مستفید کېدونکي د اصل پر اساس امریکايي ګټې خط کشي کړل شي. مطلب دا چې ولیدل شي کوم هېول افغانستان به د امریکا او کوم هېول به د سیمې د هېوادونو په ګټه او یا زیان وي. د همدې محاسبې په نتیجه کې د امریکايي ګټو څه نا څه تحلیل کېدای شي.

د افغانستان له راتلونکي وضعیت څخه متضرر او یا مستفید کېدونکي جهتونه په عموم کې په دوو برخو وېشلای شو، چې له یوې خوا په ټوله کې د سیمې هېوادونه او له بلې خوا امریکا ده.

## د سیمې د هېوادونو دریځونه

په مجموعي توګه د سیمې هېوادونه خپله ګټه په باثباته افغانستان کېویني، ترڅو د افغانستان له جغرافیې د دوی امنیت ته ګواښ متوجه نه شي او د افغانستان د جغرافیې په مرسته سیمه پر یوه اقتصادي بلاک تبدیله شي. په دې ګټه کې په مشخصه توګه پاکستان هم شریک دی.

د افغانستان په قضیه کې پاکستان د سیمې د هېوادونو له جملې څخه تر ټولو فعال هېواد دی. د پاکستان د نظامي او استخباراتي کړیو تاریخي برداشت دا دی چې د افغانستان د حکومت ملګرتیا او یا دښمنۍ ته د خپل هېواد د ملي امنیت د مسائلو په سر کې ځای ورکړي. له هند سره رقابت، د ډیورند کرښه، او د ډیورند د کرښې هاخوا پراته پښتون او بلوڅ ولسونه ټول د پاکستان لپاره ستري امنیتي ستونزې ګڼل کېږي.

پاکستان خپل وضعیت ته په کتو، نه غواړي په داسې یوه جغرافیه کې راګیر شي چې یوې خوا ته یې ځواکمن او دښمن هند پروت وي او بلې خوا ته ځواکمن او دښمن افغانستان سر را پورته کړي.

[2] Mitchell, Ellen. "Biden Struggles to Detail Post-Withdrawal Afghanistan Plans." *TheHill*, The Hill, 19 June 2021, thehill.com/policy/defense/559229-biden-struggles-to-detail-post-withdrawal-afghanistan-plans?rl=1.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په همدې دلیل له ۱۹۷۰ میلادي کلونو را په دې خوا د افغانستان په مسائلو کې په ژوره توګه دخیل دی.[3]

اوس چې امریکايي نظامي حضور په افغانستان کې پای ته رسېږي، نو وضعیت ته په کتلو، د پاکستان په ګټه تله درنه ښکاري. پاکستان کوښښ کوي چې د افغانستان په راتلونکي نظام کې خپلې ګټې خوندي کړي. د پاکستان لپاره د دې مثبت وضعیت تر څنګ بل واقعیت دا دی چې د پاکستان اقتصادي حالت ښه نه دی او دا هغه وخت ښه کېدای شي چې په سیمه کې سیاسي ثبات او اقتصادي پراختیا رامنځ ته شي. پاکستان ضرورت لري چې د افغانستان له لارې د مرکزي آسیا د هېوادونو مارکیټونو ته لاره پیدا کړي، خپل توکي وپلوري او د هغه ځای د انرژۍ له منابعو مستفید شي. همدارنګه، چین په پاکستان کې د چین – پاکستان د اقتصادي دهلیز څو میلیارد ډالري پروژه لري او غواړي د افغانستان له لارې یې له مرکزي آسیا سره وصل کړي. د دې تر څنګ، پاکستان پوهېږي چې که افغانستان نا امنه شي تر ټولو ډېر زیان به یې دوی ته رسېږي، په سرحدي سیمو کې نا امني او پر پاکستان باندې د میلیونونو نورو کډوالو احتمالي هجوم یې ورېږ بېلګې کېدای شي.[4]

اقتصادي ضرورتونه، له چین سره یې اقتصادي شراکت او د ملي امنیت مسایل پاکستان دې ته هڅوي چې په افغانستان او سیمه کې د ثبات د ټینګښت لپاره کار وکړي او کوښښ وکړي چې په دې نوې مرحله کې پر افغانستان خپل اغېز له لاسه ور نه کړي. ولې پاکستان به طالبانو ته اجازه ور نه کړي، چې د زور له لارې د قدرت د نیولو پرېکړه وکړي. که طالبان د زور له لارې د حکومت د نیولو هڅه وکړي نو خپل هغه مشروعیت چې په دې تېرو تقریباً درېو کلنو کې یې د دیپلماتیکو هڅو له لارې لاس ته را وړی، له لاسه ورکړي. همدارنګه، د زور له لارې جوړ شوی حکومت به نړیوالو او د سیمې هېوادونو ته د منلو وړ نه وي. دا هغه څه دي چې د پاکستان له ګټو سره په تضاد کې واقع کیږي. پاکستان غواړي طالبان په یوه مشروع مشراکتي حکومت کې ونډه ولري تر څو نړیوال او سیمه ایز مقبولیت ولري.[5]

چین په افغانستان کې دوه مهم اهداف تعقیبوي؛ لمړی یې اقتصادي دی، هغه دا چې د پاکستان بحري بندرونه او د چین-پاکستان اقتصادي دهلیز، د یوه با ثباته افغانستان د ځمکنیو لارو له

[3] - "Pakistan: Shoring Up Afghanistan's Peace Process." Crisis Group, 30 June 2021, www.crisisgroup.org/asia/south-asia/pakistan/b169-pakistan-shoring-afghanistans-peace-process.
[4] Ibid.
[5] Ibid.

طریقه د مرکزي آسیا له هېوادونو سره وصل کړي؛ دوهم یې امنیتي دی او هغه دا چې افغانستان باید د هغو ډلو ټپلو لپاره خوندي ځای نه شي چې د چین د امنیت پر ضد کارول کېدای شي، خصوصاً د سینکیانګ د ایلات په نا امنه کېدو به چینایي پروژې له خنډ او ځنډ سره مخ شي. د دې تر څنګ، نا امنه افغانستان به د مخدره توکو د تولید او صدور په لوی مرکز بدل شي چې چین یې په اړه وېره لري.[6]

روسیه هم نه غواړي چې په خپلو جنوبي سرحدونو کې له امنیتي ستونزو سره مخ شي. په همدې دلیل په مرکزي آسیا کې پراخ نظامي حضور لري او د سیمې د هېوادونو په ګډون یې سیمه ایز امنیتي جوړښت هم رامنځ ته کړی دی.[7] روسیه او د مرکزي آسیا هېوادونه، داعش ډله د ځان لپاره لوی خطر ګڼي او له دغه خطر څخه وېره په دې دلیل هم زیاته ده چې د داعش په صفوفو کې په لویه کچه د مرکزي آسیا د هېوادونو اتباع شامل دي. نا امنه افغانستان د داعش د رشد لپاره مناسبه جغرافیه حسابېږي او دا به روسیه او د مرکزي آسیا هېوادونه له داسې ستونزو سره مخ کړي چې له اقتصادي پلوه به لوی مصارف ولري او د بشري ناورینونو سبب به شي. اوسمهال، د روسیې ستراتېژي دا ده چې په افغانستان کې د هېڅ کوم لوري پراخه پلوي ونه کړي. روسیه کولای شي په افغانستان کې له هر ډول رژیم سره کار وکړي، خو په دې شرط چې د روسیې د ګټو پر وړاندې خطر حساب نه شي. همدارنګه، د مرکزي آسیا هېوادونه او روسیه هم، لکه چین، د افغانستان د مخدره توکو له معضلې وېره لري او نه غواړي د دوی مارکېټونه د مخدره توکو لپاره د تقاضا لوی بازار شي.[8]

په افغانستان کې د امریکا نظامي حضور، چین او روسیې دواړو ته ګټور ثابت شوی. د امریکايي حضور په نتیجه کې شل کاله چین او روسیه دواړه له خپلو سرحدونو څخه په تشویش کې نه وو. په تېرو شلو کلونو کې روسانو په افغانستان کې له مستقیمي مداخلې څخه په کلکه ډډه کړې او نه یې دي غوښتي چې په داسې یوه جنجال کې دخیله شي چې نتیجه یې معلومه نه ده. همدارنګه په سیمه کې روسي منابع او کنترول په هغه اندازه نه دی چې وکړای شي یوه پراخه جګړه کنترول او رهبري کړي. روسیه په خپلو جنوبي سرحدونو او د مرکزي آسیا پر هېوادونه هغه کنټرول نه

[6] Babb, Carla, et al. "China's Plans in Afghanistan Following US Troop Withdrawal." *Voice of America*, 18 June 2021, www.voanews.com/south-central-asia/chinas-plans-afghanistan-following-us-troop-withdrawal

[7] Lewis, Dustin. "Collective Security Treaty Organization (CSTO)." *HLS PILAC*, HLS PILAC, 30 Mar. 2015, pilac.law.harvard.edu/multi-regional-efforts//collective-security-treaty-organization-csto.

[88] TRENIN, DMITRI, et al. *A Russian strategy for Afghanistan after the coalition troop withdrawal*. CARNEGIE MOSCOW CENTER, May 2014, carnegieendowment.org/files/CMC_Article_Afganistan_Eng14.pdf.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

لري چې په لویه کچه د مهاجرت، د مخدره توکو د قاچاق او د اورپکو د تګ راتګ مخه ونیسي. په همدې دلیل، روسیې په افغانستان کې د امریکایي حضور هغه ډول مخالفت نه دی کړی، کوم چې له امریکا سره په نورو سیمو، خصوصاً منځنۍ ختیځ، کې شوی دی.[9] د چین موقف هم په تېرو شلو کلنو کې روسیې ته ورته و، امریکا په خپل مصرف او هڅو نسبي ثبات رامنځ ته کړی و، او چین نه غوښتل د افغانستان په قضیه کې مستقیماً دخیل شي.[10]

ایران هم پاکستان ته ورته اقتصادي ستونزې لري. د کلونو کلونو اقتصادي محاصرې په نتیجه کې د ایران اقتصاد په خراب وضعیت کې دی. په منځنۍ ختیځ کې هم ایران په ډېرو هېوادونو کې مصروف دی. همدارنګه، ایران، خصوصاً شرقي ایران، د نړۍ په وچه برخه پروت دی چې د ایران لپاره د ملي امنیتستره ستونزه بلل کېږي. په داسې حالت کې د ایران کوښښ دا دی چې د افغانستان په مسئله کې، منځنۍ ختیځ ته ورته، منابع او وخت ضایع نه کړي. د دې ترڅنګ، ایران دا هم نه غواړي چې د افغانستان په راتلونکي کې هېڅ سهم ونه لري. ایران یوه باثباته او ملګري افغانستان ته ضرورت لري. افغانستان د ایراني صنعتي توکو او تېلو لپاره ښه مارکېټ دی. همدارنګه، ایران له چین سره ۲۵ کلن اقتصادي تړون لري او غواړي چې له چین او پاکستان سره تجارتي اړیکې پراخې کړي. په سیمه کې د ایران، چین او پاکستان لپاره اقتصادي تحرکات له یوه باثباته افغانستان پرته له ستونزو سره مخ کېږي.[11]

په خلص ډول، افغانستان کې ثبات د سیمې د هېوادونو په ګټه دی. با ثباته افغانستان د سیمې د اقتصادي پیاوړتیا لپاره اړین ګام دی. همدارنګه، په سیمه کې د جنګي ډلو، اغتشاشونو او شبه نظامیانو د رشد لپاره نا امنه افغانستان ته زمینه برابروالی شي، چې اثرات به یې پر ټوله سیمه، خصوصاً پاکستان، چین، روسیه، د مرکزي آسیا هېوادنو او ایران ډېر زیات وي. په داسې حالت کې به، د سیمې د هېوادونو کوښښ دا وي چې د افغانستان د ثبات لپاره کار وکړي، او دوی ته به، پرته له پاکستانه چې طالبان خپل چانس بولي، دا مهمه نه وي چې کومه ډله او کوم طرف د افغانستان ثبات قایموي.

---

[9] Ibid.
[10] Babb, Carla, et al. "China's Plans in Afghanistan Following US Troop Withdrawal." *Voice of America*, 18 June 2021, www.voanews.com/south-central-asia/chinas-plans-afghanistan-following-us-troop-withdrawal
[11] SETH J. FRANTZMAN "After US Afghanistan Withdrawal, Will Pakistan, Iran and Turkey Take Over." *The Jerusalem Post | JPost.com*, www.jpost.com/international/after-us-afghanistan-withdrawal-will-pakistan-iran-and-turkey-take-over-672090



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## امریکایي ګټې او تګلاره

وروسته له شلو کلونو، امریکا باور لري چې القاعده نور په افغانستان کې، د نه شتون تر حده، ضعیفه شوې ده، او طالبانو وعده کړې چې په افغانستان کې به هېچا او هېڅ ډلې ته اجازه ور نه کړي چې امریکایي ګټو ته خطر پېښ کړي. د امریکا ولسمشر جو بایډن، او نور جګ پوړي چارواکي، اوس پر دې باور دي چې په افغانستان کې نور نظامي حضور او تحرک ته اړتیا نشته، او دا ځکه چې پخوانی خطر نور نه دی پاتې. اما، د نظامي حضور پای په دې معنی نه دی چې په سیمه او افغانستان کې امریکایي ګټو نور خپل مفهوم له لاسه ور کړی وي.

وروسته له شلو کلونو، سیمې او نړۍ بدلون کړی. چین، د یوه لوی اقتصادي ځواک په توګه، غواړي په ټوله نړۍ منګولې خښې کړي، له آسیا نیولې د افریقا تر ژورو پورې پرتو مخ پر وده او فقیرو هېوادونو سره د یوې نوې اقتصادي شبکې مزي غځوي، او غواړي په نړۍ کې امریکایي هژموني چلنج کړي. همدارنګه، روسیه په سیمه کې ملګرو او بلاکونو جوړولو ته چمتو ده. چین او روسیه که څه هم په مرکزي آسیا کې یوه بل ته د شک په سترګه ګوري خو د امریکا په مقابل کې کولای شي چې پر یوه او بل باور وکړي. روسانو په منځنۍ ختیځ کې هم امریکایي هژموني، په تېرو لسو کلنو کې، له سختو چلنجونو سره مخ کړې ده. په سمیه کې یوازېنی هېواد چې له امریکا سره په یوه لار سفر ته مجبورېدای شي هند دی، د سیمې نور هېوادونه یا د امریکا ستراتیژیک رقیبان دي او یا هم د خپلو ګټو لپاره د تلې درنه خوا ګوري.

په داسې ماحول کې، امریکا مجبوره ده چې د خپلو منافعو په لیست کې لومړیتوبونه له سره تنظیم کړي او په تګلارو کې تغییر راولي. په افغانستان کې د نظامي حضور پای، د امریکایي ګټو د لومړیتوبونو د لیست بیا تنظیم او په تګلارو کې د تغییر لومړنی ګام دی.

اوسمهال داسې ښکاري چې امریکا په سیمه کې څو مهم اهداف تعقیبوي او خپلې ګټې د همدې اهدافو په تحقق کېویني. د دغو اهدافو له جملې، لومړی دا دی چې د افغانستان خاوره په هېڅ ډول د امریکا پر ضد استعمال نه شي، او دا هدف تر لاسه شوی دی. دوهم دا چې نا امنه افغانستان د پاکستان امنیت ته داسې خطر پیښ نه کړي چې په نتیجه کې یې د هغه هېواد اتمي وسلې غیر دولتي وسلهوالو ډلو ته په لاس ورشي. او یا د افغانستان کړکیچ دومره پراخ شي چې د هند او پاکستان ترمنځ د اتمي جګړې سبب وګرځي. امریکا په سیمه کې د هند او پاکستان موجوده کړکیچ له نږدې څاري او نه غواړي په سیمه کې خپل یوازېنی ملګری، هند، خطرونو ته



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

یواځې پرېږدي. امریکا د پاکستان اتمي پروګرام په اړه خپل تشویشونه تل په لوړ غږ اظهار کړي دي او اوسمهال د هند او پاکستان ترمنځ د شخړو کمول، د جنوبي آسیا په اړه د امریکا د ستراتیژۍ یوه مهمه برخه ده.[12] دریم دا چې افغانستان باید داسې یو حکومت ولري چې په سیمه کې د امریکا د رقیبانو تر تأثیر لاندې نه وي. داسې یو حکومت چې مستقل وي او امریکا ته د یوه ستراتیژیک دښمن په سترګه و نه ګوري، حتی که طالبان په کې لویه او مهمه ونډه هم ولري، د امریکا لپاره د قبول وړ دی.[13]

د سیمې د هېوادونو ګټې او په سیمه کې امریکايي اهداف ظاهراً یوه بل سره ټکر نه لري، بلکې سره نږدې دي. د سیمې هېوادونه با ثباته افغانستان په خپله ګټه ویني او د سیمه ایزو رقابتونو له کبله یو هم نشي کولای د افغانستان پر راتلونکي حکومت کامل کنټرول او هژموني ولري. په داسې حالت کې امریکا مجبوره نه ده، او خپل مسئولیت نه بولي، چې په یواځې ځان په افغانستان کې د ثبات د راوستلو لپاره د کال تر ۴۰ میلیاردو ډالرو پورې مصرف وکړي او یا یې عسکر ووژل شي. امریکا اوس په دې باور ده چې با ثباته افغانستان له هر چا وړاندې د سیمې د هېوادونو په ګټه دی او باید دوی د افغانستان د سولې او ثبات په پروسه کې له بل هر چا زیاته ونډه واخلي. د امریکا دا باور د هغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن په مرکه کې، چې له سي ان ان تلویزیون سره یې کړې ده، ښه معلومیږي.[14]

## پایله

په لنډه توګه، له شل کلنو نظامي او سیاسي هڅو وروسته، امریکا ونه توانېده چې په افغانستان کې سیاسي ثبات او امنیت رامنځ ته کړي. د سیمې هېوادونه د امریکا پلانونو ته د شک په سترګه ګوري، په همدې دلیل د افغانستان له مرکزي حکومت سره د اړیکو ترځنګ، له طالبانو سره هم اړیکې ساتي. په سیمه کې هم حالات د بدلون په حال کې دي او امریکايي رقیبان په آرام ذهن د

[12] JIM GARAMONE. “President Unveils New Afghanistan, South Asia Strategy.” U.S. Department of Defense, www.defense.gov/Explore/News/Article/Article/1284964/president-unveils-new-afghanistan-south-asia-strategy/

[13] Felbab-Brown, Vanda. “US Policy toward Afghanistan: Consider the Trade-Offs, Including with Other Policy Areas.” *Brookings*, Brookings, 14 Jan. 2021, www.brookings.edu/blog/order-from-chaos/2021/01/12/us-policy-toward-afghanistan-consider-the-trade-offs-including-with-other-policy-areas/

[14] Gaouette, Nicole, and Jennifer Hansler. “Blinken Says US Withdrawal from Afghanistan Will Concentrate the Minds of 'Free Riders' in the Region.” *CNN*, Cable News Network, 30 Apr. 2021, www.cnn.com/2021/04/27/politics/blinken-tapper-the-lead/index.html

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

خپلو سیمه ایزو او نړیوالو موخو لپاره پلانونه جوړوي. دې ټولو خبرو ته په کتلو، امریکا نه غواړي د افغانستان د ثبات او امنیت ټول مصارف په یواځې ځان وګالي، او خپل استخباراتي او نظامي منابع په یوه بې پایلې جګړه کې تر نامعلومه وخته مصروف کړي. په همدې دلیل خپل نظامي حضور ته د پای ټکی ږدي او غواړي د افغانستان د امنیت او ثبات مسئولیت په لویه کچه د سیمې هېوادنو ته ور وسپاري. په دې مرحله کې به د امریکا رول دا وي چې د خپل توان تر حده د سولې د پروسې ملاتړ وکړي، له افغان حکومت سره د مرستو له لارې د فوري سقوط مخه ونیسي او د ضرورت په وخت کې پرې لازم فشار وارد کړي ترڅو د سولې خبرو ته غاړه کېږدي. که په افغانستان کې جګړه ودرېده هم د امریکا په ګټه ده او که جګړې دوام پیدا کړ هم تاوان یې تر ډېره حده د سیمې هېوادونو ته رسېږي چې اکثر یې د امریکا ستراتیژیک رقیبان دي. د افغانستان د وضعیت د خرابېدو په صورت کې امریکایان کولای شي خپلې سیمه ایزې ګټې او اهداف، تر یوه حده، د سیمې له هېوادونو څخه کنترول او د ضرورت په وخت کې نظامي مداخله وکړي. حالاتو ته په کتلو، د داسې یوه احتمال لپاره دلایل کم دي چې ګویا امریکا دې په سیمه کې د خپلو رقیبانو، خصوصاً چین او روسیې، په مقابل کې د افغانستان عمدي نا امنۍ او جګړې ته لمن ووهي. که د سیمې هېوادونه خپلې ګټې د افغانستان په ثبات کېویني نو په آسانۍ کولای شي په ګډه د جګړې د پراخېدو مخه ونیسي. امریکا به په داسې یوه حالت کې د ټولو په مقابل کې رقابت ته زړه ښه نه کړي.

پای

**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.**



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)